لنډ داستان!

سپینه کوتره !

زرین ! دشپې له ملګرو سره ، دغوروِلایت د چخچران ښار په هوایي
ډګر کی ، دډګر د لوي امر خلیل سره میلمه وه!
خلیل یودنګ دلوړی ونی خاوند ځوان وه اوتل به ای یو ښکلی مسکا
په نریو شونډو ځلیده، چی مخاطب به ای له ژوری اغیزی لاندی راوست
دهغه دری تنه نور همکاران هریو جمشید، ولی اوصابر نومیده چی ورسره یوځای اوسیدل
خلیل اوملګرو اي له زرین ځنی هیله وکړه چه سبا له دوي سره دغلمین دري
ته دمیلمستیااو سیل لپاره و لاړ شې!
دغلمین دره ډیر ښکلې او اوپه زړه پوري دره وه
اود کوچیانواو مال دارانو یو ډیر مهم ځړ ځاي او ایلبند شمیرل کیده په
دوبي کي به په سلګونه کورنې کوچیان اومال داران ور پورته
کیدل سیمه ډیر شنه شیرازه او وا ښه وه ، په دي ښکلی شنی ستری
اوپراخه وادی کې دیو ی جګی غونډی په سر

دملکې هوایي ریاست دبرخی یو د هوا پیږندنې ستیشن وه ،
چي د سیمې د هوا حالات به اي دکال په څلور فصلونوکې ثبت او
معلومول او مر کز ته به اي ور کول
زرین ته هم ددي در ي کیسې ډیر ي په زړه پوري وي ځکه
اي نیت وکړ چي له ملګرو سر ه د دي دري دلیدنی اوسیل
لپاره و لاړشي ! ټوله شپه ای له ډیر خوشحالی خوب ونه کړ اوچی سترګی به
ای پټی شوی دغلمین ددری رنګین خوبونه به ای لیدل
سبا وختې دوي ټول د جیپ موټر په سورلي د غلمین د دري په
لور روان شول !
پسرلي وه سیمه ډیره ښکلې سمسوره وه ، غرونه او رغونه
ټول تک شنه وه
او موټر دشنو ، چمنونوپه شنه فرش شوی سړک روان وه
تر څو چي ستر ګو کار کاوه شنې غونډي او پوښتې
او سار ای راز راز ګلان اوبوټی تر ستر ګو کیدلې اود سړی ستر ګي ،
د ښکلا اوطراوت له برکته
په لیدلو اوکتو داسی خوړیدلې چی بیساری خوند ای کاوه
اود لیدونکی په زړه او روح کی اي د ژوندي اوخوشالی ساه ور پوکوله !
دلته ډیري په زړه پوري منظري اوښکلی سیمی
یو پر بلې پسې دسړي تر مخې را تللې اوتیریدلی
زرین دوي دشهرک دسیمی
دولسوالې په غاښې ور وختل ، د شهرک ښکلې دري
ته ور کوز شول ، په دي دره کي
دشهرک د ولسوالې مرکزاو یوکوچنې
با زارګي وه ، یوکوچنې رود پکې بهیده، رود تکي سپینې
رڼې اوبه درلودي او له خالداره کبانو ځنې
ډک او مالامال وه!
زرین او ملګرو اي غرمه دلته د شهرک په دبازارګي کي
تیره کړه اوپه زیږو غوړیو کي سره کړي خالداره کبان
تاوده تاوده وخوړل!

له غرمي وروسته د غلمين د دري په لور ي وخوځيدل
ماز ديګر وه چي، د غلمين دري ته ور ورسيدل
د غلمين په دره کي يو ډيره ښکلے اونامداره پيغله اوسيدله! چي دغلمين ددري
د ارباب ثنا لور او ددي ځاي دخلکو مشره وه
دارباب لورد ميلمنو ځني خبره شوي وه !
نو ځکه د خپلو سړ يو سره يو ځاي له کلے بهر
د ميلمنو مخے ته دهر کلی لپاره راغلے وه
زرين ! اوملګری ای دخلکو په ليدو، ټول له جيف موټر نه راکوز شول
کتل ای چی دګنو خلکو په مينځ کی يوښکلی دنګ ځوان ولاړ دی
له خپل ملګري خليل نه پوښتنه وکړه !
خليل جانه! دا ښکلے زلمے څوک دي چي داسے لوړه
غړي مغروره ولا ړ دي ؟
خليل : هغه زلمے نه دي وروغږيږ. ه !
هغه نجلی ده پيغله ( شاه بي بي )د ارباب ثنالور ددی ځای دخلکو دخان مشره ده !
زرين : څه واي دا جلے ده ؟ چي نارينه وال کالے اي
اغوستلے دي؟ !
ما وي چي دا ځوان څومره ښکلے دي چی لکه دمحمود
غز نوي د غلام ( اياز) په څير ښکاری !
شاه بي بي ! را دمخه شوه او د ټولو ميلمنو په تيره بيا
دزرين سره اي ، په لاس ښه تود روغبړ وکړه هغه پوه
شوه چي په دوي کے اصلي ميلمه زرين دي! ،
ځکه نور ميلمانه اي پخواه هم څو ځلے ليدلے وه !
ميلمانه! ټول د شاه بي بي ميلمستون ته لاړل
هغے يو ډيره ستره مهمان خانه چي څو لوي خونے اي
در لودي لرله او ټولے خونی ای په ښکليو ايماقے سرو غاليو فرش
ويي ، پستے بخملے سري توشکے او بالښتونه په کے
پراته وه ! ميلمانه اي يوي لوکسے کوټي ته
وروستل او هلته کيناستل !
سمدستے ګرمے شيدي او شين چاي، نقل ا ودشلمے را
ورسيدي ، ستړيو ميلمنو په مزه مزه چاي اوشيدی څښلی او د
شاه بي بي د بې جوړي ښکلا او ځوانے ننداره اي کوله !
چي کله ميلمنو د شپے ډو ډي وخوړه !
او شاه بي بي کورته لاړه !
خليل ! د شاه بي بي ! او دهغي دژوند دځانګړ تياو اا او ميړانے قصے
داسے بيان کړي :
شاه بي بي ! داارباب ثنا چي د دي سيمے د ايماقو دقوم
مشر خان وه لور ده !
دا چي لا وړه ماشومه وه ، دومره غښتلے اوقوي وه
چي خپل همزولي هلکان به اي ټول را څملول او ټول
تري په عذاب وه !
بيا چي پيغله شوه ، په اخترنو او دنوي کال په ميلو کي
به اي له نا مي پهلوانو سره غيږ.ي نيولے
اوټول به اي راڅملول ، پلا ر اي چي د دي دا زور او
توان وليده نوپه ټوله سيمه کي اي اعلام وکړ !
هر هغه ځوان چي زمالور شاه بي بي را څملوي نو زه
هغه ته خپله لور ، له سل ميږو او پسونو ، يو د بزکشے

اس ، یوه جوړه د قولبې غوبې او درې سوه جریبه للمې زمکه
درې لکه نغد ی افغانی روپی ، یوه فرش کړې کورسره یوځای ورکوم !
څوکاله تېرشوه تراو سه په لس هاو ځوانان راغلې له دې سره اې
زور ازمیلې غیړې و نیولې ، خو تر اوسه داسې نر نه دې پیداشوې
چې شاه بې بې را څملوې !
او په سپینه ښکلې سینه اې
سپور شې ! او دا دبخت سپینه کوتره خپله کړې !
زرین هم دپهلوانې شوقونه کول شیطان ورته ویلې
چې له شاه بې بې سر ه غیږ ی ونیسی مگر کله به اې چې دهغې پیاوړی متی . او غښتلې اندامونوته
پام شه نو خود په خود به اې پښې سستې شوی

یوځلې اې د چاې څښلو په وخت کې په توکوتوکو کې
ورته وویل : شاه بې بې جانې ! له ماسره غیږې نیسې !
هغې ور ته وخندل !
ولې نه خو د پو ښتیو د ماتیدو ضمانت دې نشم
کولاې ، نو که له پښتیو تیر اې راځه!
بسم الله راپور ته شه !
زرین ورته وخندل، نه بې بې زما دسلام وې !
زرین یوه ورځ نور هم په غلمین کې پاتې شو
شاه بې بې ددوې په ویاړ د یو ښې بزکشې د میلې
تابیه نیولې وه ، د بزکشې لپاره د درې تول ځوانان
او نامې اسونه راغلې وه
د بزکشې زور وره لوبه پیل شوه ، خلکو به ورغومې (بز)
دحلال دایرې ته په ډیره سختې راوړ
ددی په زړه پوری لوبی په پاې کې
د میدان اوبزکشی دتیم مشر اعلان وکړ !
که چا داخلی بز دحلال دا یرې ته راوړ نو یوه غالې به
جایزه ورکول کیږی ، داخلې شاه بې بې په خپله په یو
جرن اس سپره شوه او دبزکشې چپن او خولې
اې په سر کړه اوقورې ته ور ننوتله، څو شیبې
اې هڅه وکړه او لاس اې ورغومې ته ور کوز
کړ بز را پورته کړ او زنګون اې پرې راواړاوه
اس ته اې قمچینه ور کړه اس هم تعلیمې وه توپ
وهل اسونه اې په اوړو تیل وهل ،له قورې لکه باد
راووت ، او دحلال دایرې ته راورسیده !
شاه بې بې! بز په دایره کی غوځار کړ او خپل اس ته
قیزه ور کړه اولکه بر بوښکې په میدان کې
راو څر خیده اولاس ای دبری په دود پورته نیولی وه !
اوقمچینه ای تر سره را څر خوله !
ټولو خلکو په تودو چک چکو چهغو نارو اوشپیلاقونو
بدر ګه کړه !

پای